## <u>مطبوعاتي اعلامیه</u>

**مورډ پر حکامو غږ کوو! پورته شئ، که اوس اقدام نه کوئ، نو کله به یې کوئ؟**

**(ژباړه)**

د اکتوبر ۷مه، شنبه ورځ سهار شپږنیمې بجې، د فلسطین اتلانو د اشغالګر یهودي دولت پر وړاندې پراخ او هراړخیز بریدونه پیل کړل او دفلسطین او نورو اسلامي خاورو د مسلمانانو سهار یې نېکمرغه کړ. په دغو عملیاتو «طوفان الاقصی» کې مجاهدینو له غزې څخه د فلسطین په اشغال شوې خاوره کې پر پوځي تاسیساتو، زندانونو، د پولیسو مرکزونو او نورو ځایونو چې اشغالګرو یهودو ترې کار اخیسته؛ بریدونه وکړل. په کوڅو او سړکونو کې یې یهودیان، چې ګومان یې کاوه په اوسپنیزه ګنبده کې به خوندي وي، ذلیل او تر پښو لاندې کړل. د دغو بریدونو په ترڅ کې سلګونه اشغالګر ووژل شول او سلګونه نور ونیول شول.

له ۱۹۴۸م کال راهیسې، ترهګر یهودي دولت چې د ډارنو عربي حکومتونو او د ترکیې او نورو اسلامي خاورو د مشرانو د چوپتیا له امله یې جرات پیدا کړی و او خپل اشغال یې پراخ کړی؛ د مسلمانانو ځمکې یې غصب کړې او بې ګناه ماشومان او ښځې یې  قتل عام کړې دي؛ دا ځل د دغو بریدونو پر وړاندې بې وسه او یوازې وو او هر لوري ته یې منډې وهلې. دا حالت د یهودي دولت ضعف او کمزوري په ډاګه کوي. د فلسطین ولس او زړورو مجاهدینو نړۍ ته وښوده چې یهود اشغالګر ذلیل او کمزوري دي، خو په اسلامي هیوادونو کې خاین حکومتونه د خپلو قاتلینو کوربه‌توب کوي؛ له اشغالګر یهودي دولت سره د اړیکو عادي کولو پر سر سیالي کوي او په ورین تندي خبرې مخته ورسره وړي.

اې حکامو! د فلسطین له خلکو چې څومره تمه کېده، هغه یې پوره کړه؛ اوس ستاسو وار دی! هغه یهودیان چې د کم شمېر فلسطیني اتلانو د عملیاتو پر وړاندې لکه وېرېدلې هوسۍ هر لوري ته منډې وهلې، د ترکیې د پوځ او سرتېرو پر وړاندې به څه وکړي؟ کوم اقدام چې اوس کوئ، تاسو ته د تاریخ جوړولو فرصت درکوي. که دغه ستره جګړه وکړئ، پېړۍ پېړۍ به مو په اړه خبرې کېږي. لکه د صلاح الدین فتح، له قدس څخه د صلیبیانو ایستل، چې هېڅکله نه هېرېږي. دغه ستره فتح او بریا به هم تر پېړیو د خلکو په یاد وي. له امریکا، چې د یهودي اشغالګرو ملاتړ کوي، مه وېرېږئ! د امریکا د زاړه ولسمشر ګواښونو ته غوږ مه ږدئ! له یاده مه باسئ چې د یهودي اشغالګر دولت راپرځېدل به دوی ډېر ووېروي!

**اې زړورو مشرانو!** دا ستاسو لپاره یو تاریخي فرصت دی! تاسو ولیدل چې مسلمانانو، سره له دې چې د دولت ځواک یې نه و او سرچینې یې ډېرې محدودې وې، څه وکړل. دوی اشغالګر حیران کړل او پرته له دې چې شاوخوا وګوري، وتښتېدل. که وغواړئ، دا اشغالګر دولت له نقشې څخه ایستلی او خپل نومونه په تاریخ کې په زرینو

کرښو لیکلی شئ. که غواړئ له دغه تاریخي فرصته ګټه واخلئ او د الله سبحانه وتعالی او مسلمانانو پر وړاندې خپل مقام لوړ کړئ، نو همدا اوس اقدام وکړئ، که اوس یې نه کوئ، نو کله به یې کوئ؟! باید هېڅکله شاته ونه ګورئ! د ترکیې مسلمان ولس به په دې لار کې ستاسو د هر قدم ملاتړ وکړي.

**اې مسلمانانو!** پر هغو کسانو مه دوکه کېږئ، چې د غصب شوي یهودي دولت درد او ذلت ته په ټیټه سترګه ګوري! هغه دروغ اوس افشا شول چې یهودي دولت ډېر پیاوړی دی؛ اوس ښکاره شوه چې دا پلاستیکي او پړسېدلې پوکانې ته ورته دولت دی. راتلونکی ګام به دا وي چې د الاقصی سپېڅلې خاوره له دغو یهودو پاکه او دوی ترې وشړو. دا کار به د راشده خلافت له لارې کېږي، چې ډېر ژر به ان شأالله تاسیس شي. راشده خلافت به د دغه ډارن دښمن دېوالونه او کلاګانې ویجاړې کړي؛ دولت به یې له منځه یوسي؛ له هر لوري به خپل پوځونه ور مرش کړي او د نړۍ له نقشې به یې ورک کړي. نو د «دوو-دولتونو» پر حللاره، چې د فلسطین لپاره د امریکا پلان دی او د ترکیې او نورو هیوادونو له لوري د حللارې په توګه وړاندیز شوی، بسنه مه کوئ. د کافرې امریکا له لوري په پولو کې ترسیم شوي کوچني فلسطین باندې مه راضي کېږئ! پر ځای یې د خلافت غوښتنه وکړئ، ځکه د فلسطین حللاره یوازې یو دولت؛ د نبوت پر منهج راشده خلافت دی!

**[وَيَقُولُونَ مَتى هُوَ قُلْ عَسَى أَنْ يَكُونَ قَرِيباً]**

ژباړه: *«نبه نو دا به کله وي؟» ورته ووایه، «ولې حیرانېږئ؟» هغه وخت ډېر نږدې دی.»* [اسرا: ۵۱]

**حزب التحرير- ولایه ترکیه مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د ربیع الاول ۲۳مه**

**۲۰۲۳م کال، د اکتوبر ۸مه**

**د صدور ګڼه: ۰۳/ ۱۴۴۵**

**ژباړن: فریدون محتاط**